فقیر


۲۸ سپتمبر ۲۰۲۳

## ایا یوه توره راتلونکی د زغملو ده؟

افغانستان تر ټولو په بدو او تورو ورځو کې دی. د راتلونکي نسل پرمخ د تعلیم دروازی بندې دي، خوارځواکي (malnutrition) اوشدیده سوء تغذی مسلطه ده. بی بی سی( BBC) راپور ورکوی چې: د ارزګان او هلمند د روغتیایی کارکوونکو په وینا هره اونی په لسګونو زره معیوب او په خوارځواکی اخته ماشومان روغتونو ته راوړل کیږي. جبری مهاجرت، د روحي کړاو له امله ځانوژنو، د بدن دغړو خرڅلاو، په کوچنی عمر د نجونو ودولو، مروموزو قتلونو اود لارو بندیدو د نوی نسل سبا ورځ په بد مرغیو اخته کړی ده.

مسئول او وګړنیز حکومتونه ترهرڅه دمخه د ماشومانو روغتیا، تغذیي، تربیي او روزني ته پام کوي. په داسي حال کې چي دهیواد جنوب ولایتو کې سخته وچکالي ده، د طالبانو د عُشر او زکاة د فشار له امله کروندګرو خپل قوت لایموت حاصل هم له لاسه ورکړی. په دې حالت کې ماشوم ته نه د ښبلو پاکې اوبه شته، نه مکفی غذا، نه درمل او نه هم د هوساینې نور وسایل. د جلال اباد دلارې دبندیدو له امله کابل ښارته د سبو رارسول او د سالنګ د لارې بندولو مرکز ته د میوی او نورو اړتیاوو رسول ستونزو سره مخ کړي دي. له روزمزد او غریبکارو څخه په زور د پیسو ټولول د دوی بیوزلي نوره هم زیاته کړی ده. د ترانسپورتی وسایلو د لوړې کرایې، د برېښنا کمی، بی کیفیته درمل، د طبیبانو کمی، دښناک د اوبو نشتوالی څخه دخلکو شکایت اوچت شوی دی.

سره له دې هم، خلک وایي بیوزلي به تحمل کړو، خو د طالب زشت وضعیت، له وطن څخه دتېښتي اندېښنه، د خپلوانو بندی کول، بیځایه تلاشی او پوښتني - ګرویږني او مرموز قتلونه د زغملو نه دي. دوی وایي لوږه به د یوه فشار او کړاو په توګه وزغمو، خو د اولاد او خپلوانو اندېښنه او د تیاره راتلونکي غم له زغم څخه وتلي ده.

خلک په اندېښنه کې دي چي حاکمي طفیلي ډله د تیر رژیم ګودامونه او موجود وسایل په حریصانه او وحشیانه ډول بربادوي، ډېر ژر به د شته وسایلو په ختمیدو سره افغانستان بل ناورین سره مخ شي. د انسان لپاره تر ټولو لویه تراژیدي له راتلونکی څخه د هیلو پرې کیدل دي، کوم چي دا حالت همدا اوس په افغانانو مسلط شوی دی. که نن د دې تراژیدي دمخنیوی چاره و نه شي، وروسته به بیا د دې ناورین پراختیا لویه تباهي وي. زموږ د سبا ورځې نسل به یو معیوب، بېسواده، ناروغ، خُرافی،عقده یی او له بی اجله مرګونو سره مخامخ نسل وي.